AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۱۰/۰۸

# د اکتوبر شپږم

د غنچې په څېر په سل ژبو خاموشه
لـکه بـوې هسې پـه پـټـه خـولـه گویا

نن یوه ډېره دردونکې او غمجنه ورځ وه، نن داسې یوې مهربانې میرمن زهرا صابر، له دې نیمګړې نړۍ سترګې پټې کړې، چې ډېر زړونه یې وردول او له ډېرو سترګو وریسې اوښکې توې شوې او لا توېږي.
د ښاغلي ډاکټر صاحب صابر، د خواږه ژوند ملګرې، چې ددوې دواړو ګډ کورنی ژوند،د مینې، لورینې،هوساینې، د ارام ذهن، یو بې جوړې مثال و، چې د دوی کور تل د خپلو هیواد والو له پاره، د راشې درشې، لیدنې کتنې او مهربانۍ ځای پاتې شوی دی.
هو زه د زهرا صابر په هکله غږېږم، چې شپږ اولادونه یې روزلي او هر یو یې لوړې زده کړې لري، چې په ټولنه کې منل شوي شخصیتونه دي او دا د یوې مور لپاره ستر ویاړ ځکه دی، چې په دې اروپایي ټولنه کې د داسې اولادونو روزل، ستره وړتیا غواړي.
دوي ټولو لکه مشره لور یې، فاطمه، چې د ښاغلي ډاکټر یحیی سره یې واده کړی او اوس وردګ تخلص کوي، خالد صابر، نسیم صابر، خپلواک صابر،اسد صابر او احد صابر، دوي ډېر خواږه او درانه انسانان دي، چې د لوړو تحصیلاتو تر څنګ، هم یې د خپل افغاني کلتور عزت او درنښت نبنې او ځانګړنې، په خپلو شخصیتونو کې ساتلې او هم یې د دې اروپایي ټولنې،ځینې ګټور او غني ارزښتونه له پامه نه دي غورځولی.ځکه خو منل شوي او ښکلي شخصیتونه دي، چې په یوه سالمه او نیکمرغه کورنۍ کې روزل شوي دي، چې دا ټول د یوې لوړې پوهې او تدبیر لرونکې مور او ورسره پلار پر مټ کیداې شي.
نیکمرغه انسان به هغه وي، چې د داسې یوې مهربانې کورنۍ، بیا په خاصه توګه د خوږې مور په غیږ کې را لوي شي، له همدې کبله دا ځوانان ډېر نیکمرغه دي.
د دوي مور زهرا صابر، اوس له موږ جلا شوه، خو په ټللو سره یې موږ ته بې شمیره خوږې خاطرې پرېښودې.دغه راز خپل هیواد ته، له دې ځایه یې، په خپله افغاني ټولنه کې، له خپل ولس سره، مدام نږدې اړیکې پاللې او له هغوي سره یې تر خپل وس پورې مرسته کړې ده. ما به لیدل چې د هرې افغانې کونډې مالي ستونزو ته به کړېده او د امکان تر حده به یې،له دې ځای، ورته پیسې لیږلې.
زموږ د ګران هیواد په دا دومره اوږده موده کړاو او اړو دوړ کې،د خپل ولس په حال، ژړلي او د پردیسی په دې اوږده موده کې یوه شیبه ارامه نه ده تیره کړې.
ډېرې افغانان چې د جرمني هیواد ته مهاجر شوي، په لومړي سر کې د دوي میلمانه شوي او بیا په خاص ډول د بن ښار ته، د زهرا بیبي د لاس ډوډۍ به یې ضرور خوړلي وي، چې دا یې له خپلو هیواد والو سره د ډېرې مینې او اخلاص نښه ده.
دوي دواړه ښاغلی ډاکټر صابر او د ده درنه او مهربانه میرمن، یوه داسې کورنۍ وه، چې دلته په بهر میشتو افغانانو کې، زموږ ټولو لپاره، د مینې، او ښې لورینې یو مثال و او دی.
د دې ټولو نیکو ځانګړتیاو وجه، د ډاکټر صاحب صابر خان، د خواخوږي او مهربانه شخصیت تر څنګ،د ده د خوږ ژوند ملګرې، د خپلو ټولو اولادونو او د کورنۍ غړو لپاره، خوږه مور زهرا بیبي وه او همدا وجه ده، چې دغه ډول نیک انسانان یې ټولنې ته وړاندې کړې دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هغې د خپل ژوند له ملګري سره، جرمني ته له مهاجرت سره سم، په هر ډول حالاتو کې، هغه که له کور څخه بهر د کار کولو اړتیا وه، اوږه ورکړې او د نرسنګ په برخه کې د دوه غبرګونو ماشومو زامنو په لرلو سره، مسلکي زده کړې وکړې او په دې مسلک کې کار وکړ .
خپل د ژوند ملګري ته تل په مېړانه دریدلې وه او ګډ کورنی ژوند یې د مینې، محبت، نږدیوالي او صداقت یو تل پاتې مثال دی. ورسره لکه موږ چې وایوو، هر نیک اولاد د خپل پلار او مور لپاره یوه ستره خزانه ده، چې هم د اسلام دین د عقایدو له مخې یې دوعا ګوېې وي او هم یې ټولنې ته خیر رسیږي، هغه د دوي اولادونه دي.
داسې ښکلې، خواږه او د نرم زړه خاوندان، پر الله پاک هم ډیر ګران وي، ژوند یې ډیر اوږود نه وي او خپل ځانته یې ژر غواړي.
نن له موږ داسې یوه بې جوړې مهربانه،د خپل خوږ ژوند ملګري ډاکټر صاحب د ژوند ملګرې،خپلې درنې او ستړې کورنۍ، خواخوږې مشره، زما لپاره نږدې ملګرې او خوږه خور، له موږ جلا شوه او موږ یې د دې د جدایې په فراق کې، د غم پر ټغر کښینولو.
پر همېشني کور یې د لوي الله نور او ګلونه، یادونه یې تل پاتې نه هېریدونکي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ